سیما او اسد په ښار کښې وسېږي-
نن چې د سکول نه راغلل نو نیا
نیکهٔ ئې د کلي نه راغلي وو- مور
یې خوندور پخلے کړے وهٔ- دواړو زر
ورمنډه کړه سلام یې ورته وکړو او
هغوي ته ورترغاړه شول-



سیما تپوس وکړۀ، تاسو په څومره وخت
کښې راورسېدئ؟ بابا ووې، په درې ګېنټو
کښې- اسد ووې، دومره ناوخته؟ بابا ووې،
په خوا به مونږ په ټانګو کښې په ډېر وخت
کښې رارسېدو- اوس خو په ګاډو کښې ډېر
زر راُرسُو-



ډوډۍ تیاره شوه-اسد د اَوَن نه سورکړے
چرګ راوبستۀ- نیا ووې، دا ډبے د څۀ دے؟
اسد ووې، دا اَوَن دې- نیا ووې، مونږ به
په خوا په اور پخلے کوو- مونږ اوس هم په
تنور ډوډۍ پخوؤ- اسد ووې، او بې بې! دا
اَوَن هم تنور دے، خو د بجلۍ-



طارق لالا د کمپیوټر د خوا نه چغه کړه- ماته اي مېل وشو چې د لندن په کالج کښې مې داخله وشوه- نیا ووې، اي مېل څۀ وي ؟
طارق ووې، دا خط وي په کمپیوټر راځي- او د زرګونو کِلومیټرو فاصلې نه هم د سترګو په رپ کښې راو رسېږي-



بې بې ووئيل، په خوا به په ډاک باندې
خطونه تلل راتلل- مونږ به د يو بل خطونو ته
په مياشتو په طمع وو او ټيلي فون ملاوېدو
ته به په ګېنټو ناست وو- سيما ووې، اوس
خو مونږ د امريکې ماما سره خبرې هم کوو
او يو بل وينو هم-



ماښام اباجي بجلۍ بلې کړې- سیما د فریج
نه یخې اوبۀ راواخستې- بابا ووې په خوا به
مونږ د لالټین رڼا ته ناست وو- اوبۀ به مو د
کوهیانو نه راوېستې- او په خاورینو منګو
کښې به مو یخې ساتلې- اوس وګورئ چې
څنګه هر څۀ بدل شول-



مور ووې، ساینس ډېره ترقي وکړه- د انسان د اسانتیا نوي نوي شیزونه جوړېږي-
سیما ووې، زه به هم ساینسدانه جوړېږم او دا سې مشین به جوړووم چې خلک به پکښې پخواني او راتلونکي وخت ته تللے شي- په دې ورله ټولو شاباشې ورکړو-



**بنیادي سوال**

د سائنس ترقي زمونږ د ژوند د پاره څومره ضروري ده؟

## د لوستلو صلاحیتونه او حکمت عملي

**اواز:** کثیر رکني ټکي

**د ټکیو پنګه:** وسپږي، ناوخته، سنبال، غوایانو، مشینونه، میاشتو، کمپیوټر، خطونو، زرګونو، کلو، میټرو، کوهیانو، خاورینو، اسانتیا، سائنسدانه، پخواني، راتلونکي

**ژب داني:** جملې او پیراګراف

## لېولډ ریډر

په یو کلاس کښې د لوستلو د صلاحیت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مینځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحیتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ریډر په نوم مختلفې قیصې لیکلې شوي دي- د دې لېولډ ریډر متن په رو رو سپوا کړے شوے دے- د لېولډ ریډرز بنیادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ ریډر 8 سېټونه تیار کړي شوي دي- د هر لېولډ ریډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر یو لېولډ ریډر په شاتنۍ مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

## استاذانو د پاره لارښوونې

د وړومبیو درېو مخونو نه پس لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. سیما او اسد چا ته ورترغاړه وتل؟
2. سیما د نیکۀ نه څۀ تپوس وکړو؟

د نیمې قیصې نه پس لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. اسد بې بې ته د اَوَن باره کښې څۀ ووئیل؟
2. په صفحه نمبر 2 جملې په فعل حال کښې بدلې کړئ او دوباره ئې ولولئ؟
3. د نن زمیدارۍ او پخوانۍ زمیدارۍ کښې څۀ فرق دے؟

د قیصې په اخره کښې لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. نوې زمانه د زړې زمانې نه څنګه مختلفه ده؟
2. قیصې په خپلو ټکیو کښې دوباره ولولئ؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد یو ایس ایډ- پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړې دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس ایډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-